DTM
AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

غزني
د پايلي لنډيز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸


په غـزني ولايـت کـې د زدکـړې آسـانتياوو کموالـی او درسي توکـو تـه د لاسرسـۍ نشـتون د ماشـومانو د زدکړې لپـاره اصلي خنډونـه دي. په پورتنـي انځـور کـې هلـکان او انجونـې د مالسـتان ولسـوالۍ خشـک کاريـز کلي کـې په يو منځنۍ ښـوونځۍ کـې په خيمې کې ناسـت دي او سـبق وايـي. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم (DTM)

د بېځايـه کېدوونکـو د تعقيـب سيسـتم داسـې يو سيسـتم دی چـې د خلکـو د بېځايه کېدنې او تحـرک لـه بهيـر څخـه تعقيـب او ځارنه کوي. دا سيسـتم په سيسـتماټيک ډول د معلوماتو راټولولـو، پراسـس کولـو او خپرولـو لپـاره جوړ شـوی ترڅو وکـولای شي د تحرکاتو او په سـيمه او يـا لاره کـې د بېځايـه شـويو خلکـو هغـه اړتيـاوو پـه هکلـه چې د بدلـون په حـال کې دي ښـه پوهـاوی منځ تـه راولي. د DTM په اړه د لا زياتو معلومـاتـو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخـه کتنه وکړئ.

پـه افغانسـتان کـې، DTM د تحـرک د ارزونې بنسـټيزه وسيله کاروي ترڅـو د تحرکاتو څخه ځارنـه، د جـبري بېځايـه شـويو کسـانو د نفـوس کچـه او موقعيـت تشـخيص، د بېځايـه کيـدو علـت، اصلـی سـيمې، د بېځايـه کېدو مهـال، لومـړني ډيموګرافيکـي معلومـات، زيانمنتياوې او د اړتيـاوو د لومړيتوبونـو څخـه ځارنـه وکـړي. معلومـات د کليـو پـه کچه د ډله ايـزو بحثونو، مخامـخ کتنـو او کليـدي معلوماتـو ورکوونکـو سره د مرکـې لـه لارې راټولېږي.

DTM پروګـرام، د کډوالـۍ نړيـوال سـازمان او ملګـري سـازمانونو تـه دا پياوړتيـا ورکـوي چـې سرچينـې پـه اعظمـي توګـه لـوړې کـړي او لومړيتوبونـه وټاکـي ترڅـو د شـواهدو پـر بنسـټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پايدارو او حساسـو بشردوسـتانه مرسـتو پروګرامونه وړانـدې کـړي او د ټولنـې د بيـا يوځـای کېدنـې، ثبـات او پراختيـا څخـه ډاډ ترلاسـه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعيتونه

DTM د تحرکاتـو بنسـټيزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اسـاسي جمعيتونـو کټګوريو موقعيت، نفـوس او څو سـکټوريزې اړتياوې څاري:

۱. بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ مياشتو لپاره د هيواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنيو هېوادونو ته تللي او يا کډه يې کړې وي

داخلي بېځايه شوي په لاندې درېو کټګوريو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې

د ارزول شـويو کليـو څخـه هغـه افغـانان چـې د داخـلي بېځايه شـويو په توګه يې خپلې سيمې پرېښـې ترڅـو د افغانسـتان دننـه پـه يوې بلې سـيمې کـې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان

د نورو سيمو څخه داخلي بېځايه شوي کسان چې اوسمهال په يوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان

هغـه افغـانـان چـې د ارزول شـويو کليـو څخـه پخوا د داخـلي بېځايه شـويو په توګه تللي ول او اوسـمهال خپلـو کورونو ته بېرته سـتانه شـوي دي

۵ د موخـې وړ جمعيتونـو لپـاره د نفـوس د کچـې معلومـات د هغـوی د بېځايـه کېدنـې پـر مهـال د دې زمـاني جوړښـت پـر بنسـټ راټولېـږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۱۹** ولسوالۍ وارزول شوې
**۳۵۵** کلي وارزول شول

**۱،۴۳۰**
کليدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۲۸،۰۳۷**
بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۵۸،۷۱۱**
داخلي بېځايه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۲۳۹،۸۶۹**
پخواني داخلي بېځايه شوي کسان اوس خپلو سيمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۲۳،۴۱۴**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۱،۶۸۰**
کسان اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۱۰٪)

**۱۳،۵۰۵**
راستنېدونکي او داخلي بېځايه شوي په خېمو او يا آزاده فضا کې ژوند کوي – غزني ولايت د هېواد په کچه پناه ځای ته د اړتيا دريم تر ټولو لوړ شمېر لري

**۵ څخه ۱**
وګړي په غزني ولايت کې يا داخلي بېځايه شوی دی او يا هم راستنېدونکی (۱۸٪)

**۵ څخه ۳**
راستنېدونکي او داخلي بېځايه شوي (۶۱٪) په غزني ولسوالۍ کې ژوند کوي

**۳۲،۰۹۱**
کسان (۹۹٪) په ناور ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۲۲،۱۶۴**
کسان (۶۸٪) په ناور ولسوالۍ کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۲۰،۸۹۳**
کسان (۶۵٪) په ناور ولسوالۍ کې روغتيايي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۵ څخه ۱**
۱۸٪ کورنۍ په ناور ولسوالۍ کې ښوونځيو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + راسپړلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي | د نفوس سلنه | راسپړلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| غزني | ۱۷۹,۴۵۹ | ۱۷۵,۲۲۳ | ٪۴۹ | ۶۱,۰۷۵ | ٪۱۷ | ۴۰,۲۴۹ | ٪۲۲ | ۱۱۴,۱۴۸ | ٪۳۲ | ۱۱۲,۲۶۳ | ٪۶۳ | ۲۹,۲۳۷ | ٪۱۶ |
| خواجه عمري | ۲۰,۶۵۹ | ۱,۶۵۳ | ٪۷ | ۱,۱۳۰ | ٪۵ | ۱,۶۸۵ | ٪۸ | ۵۲۳ | ٪۲ | ۱,۵۴۵ | ٪۷ | ۶۶۳ | ٪۳ |
| ولي محمد شهید | ۲۱,۹۴۲ | ۱,۹۴۷ | ٪۸ | ۱,۵۶۸ | ٪۷ | ۲,۲۰۲ | ٪۱۰ | ۳۷۹ | ٪۲ | ۷۸۳ | ٪۴ | ۲,۲۵۸ | ٪۱۰ |
| واغظ | ۴۲,۰۸۷ | ۱,۶۹۲ | ٪۴ | ۱,۲۵۱ | ٪۳ | ۴,۴۵۰ | ٪۱۱ | ۴۴۱ | ٪۱ | ۱۶۸ | ٪۰ | ۱,۰۹۹ | ٪۳ |
| اندړ | ۱۳۶,۱۴۱ | ۵,۵۲۳ | ٪۴ | ۲,۷۲۵ | ٪۲ | ۱۶,۴۷۶ | ٪۱۲ | ۲,۷۹۸ | ٪۲ | ۱۲,۲۴۲ | ٪۹ | ۴,۱۰۵ | ٪۳ |
| ده یک | ۵۳,۳۸۰ | ۴,۸۴۱ | ٪۸ | ۲,۵۷۰ | ٪۴ | ۵,۹۳۴ | ٪۱۱ | ۲,۲۷۱ | ٪۴ | ۴,۰۱۵ | ٪۸ | ۲,۳۳۹ | ٪۴ |
| زنخان | ۱۳,۷۲۹ | ۵,۹۳۹ | ٪۳۰ | ۵,۲۳۷ | ٪۲۷ | ۶,۶۴۵ | ٪۴۸ | ۷۰۲ | ٪۴ | ۵,۰۲۹ | ٪۳۷ | ۳,۸۱۵ | ٪۲۸ |
| رشیدان | ۱۹,۶۳۲ | ۱,۵۲۵ | ٪۷ | ۱,۵۲۵ | ٪۷ | ۱,۶۱۵ | ٪۸ | ۰ | ٪۰ | ۴۲۲ | ٪۲ | ۱,۴۶۹ | ٪۷ |
| جغتو | ۳۴,۶۴۵ | ۱,۳۴۵ | ٪۴ | ۳۴۴ | ٪۱ | ۸,۶۸۹ | ٪۲۵ | ۱,۰۰۱ | ٪۳ | ۱۶۱ | ٪۰ | ۴,۰۱۳ | ٪۱۲ |
| قره باغ | ۱۵۵,۹۰۲ | ۳,۱۸۹ | ٪۲ | ۶۹۱ | ٪۰ | ۱,۷۵۸ | ٪۱ | ۲,۴۹۸ | ٪۲ | ۳,۷۲۷ | ٪۲ | ۴۰ | ٪۰ |
| ګیرو | ۳۹,۹۰۵ | ۳,۹۹۷ | ٪۹ | ۳,۰۴۳ | ٪۷ | ۲,۲۱۴ | ٪۶ | ۹۵۴ | ٪۲ | ۴,۶۳۴ | ٪۱۲ | ۱,۶۶۰ | ٪۴ |
| ناور | ۱۰۳,۲۹۳ | ۳۲,۳۵۸ | ٪۲۴ | ۲۰,۱۵۵ | ٪۱۵ | ۹۳,۰۶۶ | ٪۹۰ | ۱۲,۲۰۳ | ٪۹ | ۴۳,۷۴۶ | ٪۴۲ | ۳۸,۶۷۲ | ٪۳۷ |
| جاغوري | ۱۹۲,۷۲۸ | ۹,۷۴۸ | ٪۵ | ۷۴۹ | ٪۰ | ۵,۰۶۸ | ٪۳ | ۸,۹۹۹ | ٪۴ | ۳۷,۱۱۹ | ٪۱۹ | ۶,۶۳۱ | ٪۳ |
| مقر | ۵۴,۹۱۹ | ۸,۳۳۲ | ٪۱۳ | ۲,۲۳۹ | ٪۴ | ۱,۷۰۶ | ٪۳ | ۶,۰۹۳ | ٪۱۰ | ۲,۶۳۹ | ٪۵ | ۷۷۳ | ٪۱ |
| آب بند | ۳۰,۰۲۶ | ۱۷,۸۲۲ | ٪۳۷ | ۱۶,۵۲۸ | ٪۳۵ | ۷,۱۶۴ | ٪۲۴ | ۱,۲۹۴ | ٪۳ | ۲,۴۲۷ | ٪۸ | ۱۷,۷۴۷ | ٪۵۹ |
| اجرستان | ۳۱,۴۳۸ | ۳۳۹ | ٪۱ | ۲۵۵ | ٪۱ | ۳,۳۷۸ | ٪۱۱ | ۸۴ | ٪۰ | ۹۷۰ | ٪۳ | ۱۲۸ | ٪۰ |
| مالستان | ۸۹,۵۶۴ | ۵,۴۰۵ | ٪۶ | ۲,۰۷۳ | ٪۲ | ۱۱,۳۶۰ | ٪۱۳ | ۳,۳۳۲ | ٪۴ | ۶,۱۹۷ | ٪۷ | ۷,۳۱۹ | ٪۸ |
| ګیلان | ۶۳,۱۲۸ | ۳,۹۳۵ | ٪۶ | ۳,۳۸۵ | ٪۵ | ۱,۹۹۸ | ٪۳ | ۵۵۰ | ٪۱ | ۹۹۸ | ٪۲ | ۱,۴۴۶ | ٪۲ |
| ناوه | ۳۲,۴۶۴ | ۱,۹۳۵ | ٪۶ | ۱,۴۹۴ | ٪۴ | ۳,۴۳۰ | ٪۱۱ | ۴۴۱ | ٪۱ | ۷۸۴ | ٪۲ | ۰ | ٪۰ |
| مجموعه | ۱,۳۱۵,۰۴۱ | ۲۸۶,۷۴۸ | ٪۱۸ | ۱۲۸,۰۳۷ | ٪۸ | ۲۱۹,۰۸۷ | ٪۱۷ | ۱۵۸,۷۱۱ | ٪۱۰ | ۲۳۹,۸۶۹ | ٪۱۸ | ۱۲۳,۴۱۴ | ٪۹ |

*د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائي او معلوماتو ملي اداري *(NSIA)* اټکل    سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≤ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪



په غزني ولایت کې دوارو کړکېچ او طبیعي پېښو کورونه په شدیده توکه ویجاړ کړي. ډیری کورونه په متوسطه توکه او ځیني په بشپړه توکه ویجاړ شوي. په پورتني انځور کې شودل شوی کور په مقر ولسوالۍ کې له بهرني هېواد څخه د یو راستنېدونکي کور دی چې د شدید بارانونو له امله په بده توکه ویجاړ شوی. © IOM ۲۰۱۸

## تګلار

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجسټر کوونکي له لوري تړې کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه داډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B۱): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B۲): دا ارزونه د B۱ ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B۱ په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د څو سکټوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جنډر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په غزني ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ۱٪ یې ښځې دي.

**۱،۴۳۰**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۲۰**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۸٪)

**۱۸**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱٪)

**۴۰۴**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۸٪)


**۱،۴۱۲**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۹٪)

**۲۳۶**
څو سکټوریز او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۷٪)


**۴**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۵۶۱**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۹٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | غزني




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | غزني



# بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنيو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو مياشتو لپاره ورسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شويو سيمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او ورسته بيا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته يې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او يا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت دي او که نه).

بهرنيو هېوادونو څخه غزني ولايت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۵۷٪ کموالی ښيي خو په ۲۰۱۷ کال کې ۲۲٪ کموالی او په ۲۰۱۸ کال کې ۴۰٪ کموالی ښيي.

**۱۲۸،۰۳۷**
بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۴۷،۳۷۸**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۳۷٪)


**۹۴،۸۴۳**
له ايران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۷۹٪)


**۷۲،۸۰۸**
ايران څخه راستنېدونکي (۵۷٪)


**۲۵،۳۴۳**
له ايران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۲۱٪)


**۷،۸۵۱**
غير ګاونډيو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۶٪)




# رارسیدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ یا وسله والو جګړو، تاوتریخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او د طبیعي پیښو یا د انسان په لاس جوړې شویو پیښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي او ارزول شویو/ کوربه ټولنو ته تللي او هلته ژوند کوي.

**۱۵۸،۷۱۱**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان

**۶۵٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۱۱۴،۱۴۸**
غزني ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۳۵٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي


**۱۵،۶۸۰**
داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۱۰٪)

**۶۸٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي


رارسیدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | غزني





د ولسوالۍ پر بنسټ رارسیدلي داخلي بېځایه شوي کسان | غزني





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسیدلي داخلي بېځایه شوي کسان | غزني





د ولسوالۍ پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان | غزني




رارسیدلي داخلي بېځایه شوي کسان | پناه ځای | غزني



# تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)





پـه عمومـي توګـه غزني ولايـت له ټولټـال ۲۸۶،۷۴۸ راسـتنېدونکو او داخلي بېځايه شـويو څخـه کوربـه تـوب کـوي چـې ۴۵٪ (۱۲۸،۸۳۷ کسـان) راسـتنېدونکي او ۵۵٪ (۱۵۸,۷۱۱ کسـان) داخـلي بېځايـه شـوي دي. پـه لانـدې جـدول کـې د غـزني ولايـت ۲۰ کلي ښـودل شـوي چـې ترټولـو زياتـو بېځايه شـويو او راسـتنېدونکو راتـګ څخه اغيزمن شـوي. دا ۲۰ کلي (د غزني ولايت ۳۵۵ ارزول شـويو کليو څخه ۶٪) د ټول ولايت ۷۳٪ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځايـه شـويو څخـه کوربـه توب کـوي. دا کلي د ټولنـو بې ثباتۍ پـر وړاندې چې د راسـتنېدونکو او داخلي بېځايه شـويو لوړ شـمېر راتګ سره رامنځ ته شـوې حسـاس او زيانمـن دي او دا کار لـه پخـوا نـه محـدودې شـوې سرچينـې او کاري فرصتونـو لا نور هم محـدود کـوي. لـه دې ۲۰ زيانمنـو کليـو څخـه ۶ کلي يې په غزني ولسـوالۍ کـې موقعيت لـري او د دې جـدول ۷۹٪ (۱۶۴,۹۳۱) راسـتنېدونکو او داخـلي بېځايـه شـويو څخه کوربه تـوب کوي.

## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زيات راستنېدونکي او داخلی بېځايه شوي لري


| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | قلعه شادا | غزني | ۸۴,۹۱۰ |
| ۲ | نو آباد | غزني | ۴۲,۴۰۵ |
| ۳ | پشتون آباد | غزني | ۳۲,۲۰۰ |
| ۴ | مير بچه | ناور | ۶,۷۴۰ |
| ۵ | ګرمک (۱) | ناور | ۶,۲۸۲ |
| ۶ | پودينه | ناور | ۵,۶۳۰ |
| ۷ | سياه بته | جاغوری | ۵,۰۸۳ |
| ۸ | شهر بالا خوت | ناور | ۳,۳۶۰ |
| ۹ | چاه اسپ | ناور | ۲,۴۰۶ |
| ۱۰ | راحت خيل | زنخان | ۲,۳۴۸ |
| ۱۱ | دو کوهي | آب بند | ۲,۳۰۲ |
| ۱۲ | ارزو | غزني | ۲,۰۰۹ |
| ۱۳ | قلتی بالا | غزني | ۱,۹۲۱ |
| ۱۴ | بالاې قلعه | ده يک | ۱,۸۳۲ |
| ۱۵ | غت قلعه | آب بند | ۱,۶۲۲ |
| ۱۶ | دو ابی | ناور | ۱,۵۴۷ |
| ۱۷ | بهايی | ناور | ۱,۵۳۱ |
| ۱۸ | مانو قلعه | آب بند | ۱,۵۰۷ |
| ۱۹ | قلعه نو سر ريګ (۱) | غزنی | ۱,۴۸۶ |
| ۲۰ | قرغه | ناور | ۱,۴۵۶ |
| | | مجموعه | ۲۰۸,۵۷۷ |

## تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډيز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي | تولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| غزني | ۶۱,۰۷۵ | ۶۱,۰۷۵ | ۱۷۵,۲۲۳ |
| ناور | ۲۰,۱۵۵ | ۲۰,۱۵۵ | ۳۲,۳۵۸ |
| آب بند | ۱۶,۵۲۸ | ۱۶,۵۲۸ | ۱۷,۸۲۲ |
| جاغوري | ۷۴۹ | ۷۴۹ | ۹,۷۴۸ |
| مقر | ۲,۲۳۹ | ۲,۲۳۹ | ۸,۳۳۲ |
| زنخان | ۵,۲۳۷ | ۵,۲۳۷ | ۵,۹۳۹ |
| اندر | ۲,۷۲۵ | ۲,۷۲۵ | ۵,۵۲۳ |
| مالستان | ۲,۰۷۳ | ۲,۰۷۳ | ۵,۴۰۵ |
| ده يک | ۲,۵۷۰ | ۲,۵۷۰ | ۴,۸۴۱ |
| ګيرو | ۳,۰۴۳ | ۳,۰۴۳ | ۳,۹۹۷ |
| ګيلان | ۳,۳۸۵ | ۳,۳۸۵ | ۳,۹۳۵ |
| قره باغ | ۶۹۱ | ۶۹۱ | ۳,۱۸۹ |
| ولي محمد شهيد | ۱,۵۶۸ | ۱,۵۶۸ | ۱,۹۴۷ |
| ناوه | ۱,۴۹۴ | ۱,۴۹۴ | ۱,۹۳۵ |
| واغظ | ۱,۲۵۱ | ۱,۲۵۱ | ۱,۶۹۲ |
| خواجه عمري | ۱,۱۳۰ | ۱,۱۳۰ | ۱,۶۵۳ |
| رشيدان | ۱,۵۲۵ | ۱,۵۲۵ | ۱,۵۲۵ |
| جغتو | ۳۴۴ | ۳۴۴ | ۱,۳۴۵ |
| اجرستان | ۲۵۵ | ۲۵۵ | ۳۳۹ |
| عمومي مجموعه | ۱۲۸,۰۳۷ | ۱۲۸,۰۳۷ | ۲۸۶,۷۴۸ |




د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)




د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې


دا هغه افغانان دي چې لـه يـوې ارزول شـوې سـيمې څخـه چې هلته يـې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه يـوې بلـې سـيمې ته تللي دي تر څو د وسـلـه والـو جګـړو، تاوتريخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب انديښـنې او طبيعي پېښـو يا د انسان پـه لاس جوړو شـويو پېښـو څخه خوندي ووسي.


**۲۱۹،۰۸۷** داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې


**۵۲٪** په عين ولايت کې نورو سيمو ته تللي دي

**۴۷٪** د کړکېچ له امله بېځايه شوي

**۵۳٪** د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي



د هغو داخلي بېځايه شويو اصلي ولسوالۍ کانې چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان


راستانه شوي داخلي بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سیمو ته چې ارزول شوې سیمې دي او پخوا يې پرېښې وې بیرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سیمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندېښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړ شویو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۲۳۹,۸۶۹**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي


**۶۷٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي

**۴ څخه ۵**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان یوازې ۳ ولسوالیو ته راستانه شوي: غزني، ناور او جاغوري (۸۰٪)

**۱ څخه ۲**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۴۷٪ کسان غزني ولسوالۍ ته راستانه شوي



د راستانه شویو داخلي بېځایه شویو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې

# بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له يوې ارزول شوې سيمې څخه د هر دليل، عامل او يا موده لپاره له هېواد څخه بهر تللي او يا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځايه شوي کډوال او هغه کسان شامليږي چې افغانستان يې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښي وي.


**۱۲۳،۴۱۴**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۱۱،۶۸۰**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۱۰٪)


**۶۲،۴۲۷**
ايران ته تللي دي (۵۱٪)

**۳۹،۹۶۸**
پاکستان ته تللي دي (۳۲٪)


د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | غزني





د هېواد پر بنسټ بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سيمه | غزني





بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | غزني





ترکيه او اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | غزني




ايران ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | غزني




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | غزني



## سکټوريزې اړتیاوې

### ۵ لومړيتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنيو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړيتوب ورکول اړين دي. DTM د ولايت، ولسوالۍ او کليو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړيتوب لرونکو سيمو يا د هغو سيمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زيات مرستو ته اړتيا لري.

(ياددښت: د هغو کسانو شمير چې لاندې يې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغليو کسانو (داخلي بېځايه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

#### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زيات راستنېدونکي او داخلي بېځايه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | غزني | ۱۷۵,۲۲۳ |
| ۲ | ناور | ۳۲,۳۵۸ |
| ۳ | آب بند | ۱۷,۸۲۲ |
| ۴ | جاغوری | ۹,۷۴۸ |
| ۵ | مقر | ۸,۳۳۲ |
| | عمومي مجموعه | ۲۴۳,۴۸۳ |

#### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتيا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځايه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | غزني | ۱۳,۱۸۵ |
| ۲ | اندړ | ۱۶۶ |
| ۳ | آب بند | ۱۵۴ |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۱۳,۵۰۵ |

#### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتيا لري (د څښاک اوبه > ۳ کيلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | ناور | ۲۲,۱۶۴ |
| ۲ | زړنخان | ۵,۳۸۵ |
| ۳ | غزني | ۲,۶۲۴ |
| ۴ | جاغوری | ۱,۲۰۴ |
| ۵ | اندړ | ۱,۱۳۸ |
| | عمومي مجموعه | ۳۲,۵۱۵ |

#### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتيايي ځانګو ته اړتيا لري (تر ټولو نيږدې کلينيک >۵ کيلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | ناور | ۲۰,۸۹۳ |
| ۲ | آب بند | ۱۱,۴۸۲ |
| ۳ | زړنخان | ۳,۹۶۴ |
| ۴ | غزني | ۳,۸۹۵ |
| ۵ | اندړ | ۳,۰۸۲ |
| | عمومي مجموعه | ۴۳,۳۱۶ |


#### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځی ته اړتيا لري (تر ټولو نيږدې ښوونځی >۳ کيلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | ناور | ۵,۷۶۲ |
| ۲ | آب بند | ۴,۶۶۶ |
| ۳ | جاغوری | ۳,۹۰۲ |
| ۴ | مالستان | ۲,۹۳۰ |
| ۵ | اندړ | ۲,۷۱۳ |
| | عمومي مجموعه | ۱۹,۹۷۳ |

#### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتيا لري (تر ټولو نيږدې بازار > ۱۰ کيلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | ناور | ۳۲,۰۹۱ |
| ۲ | زړنخان | ۵,۹۳۹ |
| ۳ | آب بند | ۵,۶۴۸ |
| ۴ | اندړ | ۲,۸۶۸ |
| ۵ | مالستان | ۲,۱۳۲ |
| | عمومي مجموعه | ۴۸,۶۷۸ |

تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) | پناه ځای | غزني




## د يوه بېځايه شوي کيسه

### د کړکېچ له امله داخلي بېځايه شوې کورنۍ د راستنېدو په هيله

سيد احمد د ۶ ماشومانو پلار دی. هغه د ارزګان ولايت په خاص ارزګان ولسوالۍ کې له خپلې کورنۍ سره خوشحاله ژوند درلوده. هغه يو هکتار ځمکه درلوده او هلته يې ميوې او سبزيجات کرل ترڅو وکولای شي له خپلې کورنۍ څخه ملاتړ وکړي. هغه کافي پيسې پيدا کولای شوې ترڅو وکولای شي خپل کورنۍ ته خواړه چمتو کړي او خپل ماشومان ښوونځۍ ته واستوي. دا وضعيت تر هغه وخته دوام وکړ چې امنيتي وضعيت د هغو په سيمه کې خراب شو. سيد احمد پرېکړه وکړه چې خپل ټول شيان، ځمکه او څاروي پرېږدي او له خپلې کورنۍ سره د غزني ولايت جاغوري ولسوالۍ ته بېځايه شي. سيد احمد او د هغه کورنۍ د ۱۵۸،۷۱۱ رارسېدليو داخلي بېځايه شويو کسانو له ډلې څخه دي چې په غزني ولايت کې بېځايه شوي دي.

بدبختانه يو اونۍ وروسته د هغوی له بېځايه کېدنې څخه بلواګرو په جاغوري ولسوالۍ بريد وکړ. سيد احمد بيا دې ته اړ شو چې د خپل کورنۍ سره يوې بل نږدې کلي ته چې زنګ آب نومېده کډه وکړي. اوس هغه له خپلې کورنۍ سره رمضان په نامه د يو کس په کور کې اوسېږي او د هغه د څارويو پام ساتي.

> ”زما ماشومان نشي کولای ښوونځۍ ته ولاړ شي ځکه چې مونږ په بېړني وضعيت کې يو. کله چې زمونږ دکلي امنيتي وضعيت ښه شو نو زه دا هيله لرم چې له خپلې کورنۍ سره بېرته خپل کور ته ستون شم. که څه هم کيدای شي د کړکېچ له امله مې خپل ټول شيان او څاروي له لاسه ورکړي وي. دا به زما لپاره ډېر ستونزمن وي چې ژوند له سره پيل کړم او له خپلې کورنۍ څخه ملاتړ وکړم. دا په داسې حال کې ده چې مونږ د دې کار لپاره هيڅ ملاتړ نلرو.“

* د يادونې وړ ده چې په دې کيسې کې نومونه بدل شوي او د سيمې نوم نده ياد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوی خوندي ووسي.



سيد احمد له خپلې کورنۍ سره د داخلي بېځايه شويو په توګه ژوند کوي او دا هيله لري چې بېرته خپل کور ته ستون شي خو کور ته د ستنېدو وروسته د ژوندانه بېرته جوړولو څخه ډار لري. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي
Canada
MOFAT
NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS
ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION
Co-funded by the European Union
په همغږي سره